

# د ماشومتوب په لومړنیو مراحلو کې د لوبو له لارې زده کړې کول

fka CHILDREN'S SERVICES INC

PASHTO

## لوبه څه ده؟

د نړۍ په کچه څېړنو ښودلې چې ماشومان هغه مهال ښې زده کړې او وده کوي چې د ګټورو لوبو په اساس په تجربو کې دخیل وي.

*لوبې د ماشومانو د ذهني، فزیکي، ټولنیزو او تخلیقي وړتیاوو د تحرک او انسجام لپاره ډېرې مهمې دي. د ماشومتوب دورې مؤثرې کړنې د تدریس او زده کړې له لارو چارو څخه استفاده کوي ترڅو له ماشومانو سره له ګډ او متقابل عمل څخه ملاتړ وکړي. ماشومان د لوبو او نورو فرصتونو له لارې په دې پوهېږي چې څنګه د ټولنیزې او طبیعي نړۍ، خلکو، ځایونو، څیزونو او هغو تجربو په هکله نظریې ورغوي او احساس کړي چې دوی په خپل ورځني ژوند کې ورسره مخ کېږي.*

VEYLDF, 2016, pg. 14 -

ستاسو ماشوم په طبیعي ډول لوبو ته مخه کوي او لوبې د هغوی د زده کړې او پراختیا مهمه برخه ګڼل کېږي. لوبې ستاسو له ماشوم سره مرسته کوي چې د خپلې نړۍ په مفهوم باندې پوه شي او د خپل هویت په اړه پیاوړی احساس پکې وده وکړي. د لوبو له لارې ستاسو ماشوم کولای شي د تصور، انګېرنې، رغونې، سپړنې، پلټنې، اړیکو، د پوښتنو د مطرح کولو، خبرو، غوږ نیولو، فکر کولو، احساس، لمس کولو او بویولو وړتیاوې ترلاسه کړي. په لوبو کې د مباحثې، د ستونزو د هوارې، د خطر د منلو، د نوو شیانو د تجربې، او د کار د څرنګوالې د لیدلو وړتیاوې شاملې دي. ستاسو ماشوم به د خپل ځان او نورو په هکله زده کړې وکړي، د لوبو په قوانینو به پوه شي، ملګري به ومومي، اړیکې به ایجاد کړي او د خپلو ښوونکو او نورو ماشومانو په ګډون به په خلکو باندې اعتماد پیدا کړي.

ماشومان به ځینې وختونه له ځانه سره لوبې کوي، له یوه یا دوو نورو ماشومانو سره به لوبې کوي او د ماشومانو په کوچنیو او لویو ګروپونو کې به لوبې کوي. لوبې کېدای شي په شور یا چوپتیا سره، په منفعل یا فعال ډول ترسره شي.

*دوامداره لوبې ماشومانو ته دا فرصت ورکوي ترڅو له بېلابېلو توکو او منابعو څخه په استفادې سره اختراع ګانې، پلټنې او موندنې ترسره کړي.*

VEYLDF, 2016, pg. 21 -

## د لوبو له لارې زده کړې کول

ښوونکې او روزونکې داسې پروګرام طرحه کوي چې په مرسته یې په دغه خدمت کې د برخه اخیستونکو ماشومانو انفرادي ګټې او اړتیاوې پوره کېږي. هغوی دا ډول کړنې د زده کړې په پرانېستې چاپېریال کې د لوبو په اساس د تجربو د پراخه لړۍ په چمتو کولو سره ترسره کوي، چېرې ماشومان کولای شي د کور د ننه او بهر ځایونو کې په آزاده توګه وګرځي.

د هغوی لپاره به ځینې رسمي فعالیتونه لکه موسیقي، کیسې او بحثونه شتون ولري. د ورځې په لویه برخه کې به ماشومان پخپله پرېکړې کوي چې چېرته لوبې وکړي، له چا سره لوبې وکړي، او دا چې په یوه ځانګړې لوبه باندې به څومره وخت تېروي. ښوونکې به د اړتیا په صورت کې له ماشومانو سره مرسته کوي او هغوی ته به لارښوونې چمتو کوي.

ښوونکې به د تدریس له بېلابېلو ستراتیژیو څخه په استفادې سره له ماشومانو سره مرسته کوي ترڅو له زده کړې سره مینه پیدا کړي، او په خپله نړۍ او د هغو خلکو په منځ کې چې دوی ورسره وینې، هڅاند، څیرک او لېواله و اوسي. هغوی ممکن د لوبو لارښوونه وکړي، لوبې رهبري کړي، یا په لوبو کې له ماشومانو څخه څارنه وکړي.

### ماشومان د لوبو پر مهال څه زده کوي؟

لوبې ماشومانو ته د خبرو کولو او پوښتنو د مطرح کولو فرصت چمتو کوي، د لغاتو د ذخيرې، ژبې، سواد، اعدادو او مهارتونو د زده کړې په برخه کې ماشومانو ته وده ورکوي. د لوبو له لارې، ماشومان په دې پوهېږي چې څنګه له خلکو سره اړيکې او رابطه رامنځ ته کړي.

ماشومان له خپل تصور څخه په استفادې سره هغه څه عملي کوي چې دوی ليدلي دي، د بېلګې په توګه؛

- داسې ښکاره کوي چې غواړي خواړه چمتو کړي
- له ماشوم څخه مراقبت وکړي
- اور وژونکی، ډاکټر يا دوکاندار واوسي.

دا له ماشومانو سره مرسته کوي چې خپله نړۍ او ټولنه وپېژني او درک يې کړي.

*ډراماتيکې لوبې د بېلابېلو هويتونو او نظريو د سپړلو لپاره مهمې دي، لکه له نړيوالو ټولنو سره د تعلق لرلو مفهوم. له ماشومانو څخه بايد ملاتړ وشي ترڅو د افرادو او ګروپونو ترمنځ د ورته والي او توپيرونو موارد وپېژني او بېلابېلو نظريو ته احترام ولري.*

VEYLDF, 2016, pg. 18 -

ستاسو ماشوم به په لوبو کې د بوختيا پر مهال د قوانينو په اړه بحث ترسره کړي ترڅو له دوی سره د هغو چلندونو په پېژندنه کې مرسته وکړي چې د نورو لپاره د منلو وړ وي. د بېلګې په توګه، ماشومان ښايي د ټال خوړلو نوبت ته د انتظار لپاره قوانين ترتيب کړي. ماشومانو ته د خلکو د خونديتوب په موخه د قوانينو په تنظيم کې، د وسايلو په مراقبت او ساتنه کې او د انصاف او عدالت په ملاتړ کې د دخالت اجازه ورکول له هغوی سره د فکر کولو او د ستونزو د هواري لپاره د اړينو مهارتونو د ترلاسه کولو په برخه کې مرسته کوي او د ارتباطاتو او ټولنيزو چارو په برخه کې او همدارنګه د حساب او سواد د مهارتونو په برخه کې د هغوی وړتياوو ته پراختيا ورکوي.

په لوبو کې ماشومان کولای شي خپلې پوهې او نظريو ته د نوو او په زړه پورو لارو له لارې پراختيا ورکړي.

ماشومان ښايي ځينې فعاليتونه په وار وار تکرار کړي، خطر په غاړه واخلي او لاندې مهارتونه زده او تمرين کړي؛

- پخپله لوړ ځای ته ختل
- په جېګسا معما باندې برلاسی
- پخپله د خپلو کاليو يا هنري جامو اغوستل
- په يوه نرۍ ميله باندې د توازن ساتل
- پخپله له قيچي څخه استفاده کول
- چندل وهل
- په ټال کې ځان ټېل وهل

دغه کوچنۍ او لويې لاسته راوړنې د ماشومانو، د هغوی د کورنيو او ښوونکو لپاره چې د هغوی له زده کړو څخه ملاتړ کوي، د انعام ګټل دي.

لوبې ماشومانو ته د دې فرصت ورکوي ترڅو؛ جشنونه جوړ کړي، لاسته راوړنې ولري، برياوې ولري، تېروتنې وکړي، تمرين وکړي، نوي معلومات يا مهارتونه تجربه کړي، نظريې ايجاد کړي، او په نوو مهارتونو او پوهې باندې برلاسي شي.

لوبه يعنې ستاسو ماشوم څنګه زده کړې کوي.

**References**

Department of Education and Training, 2016. *Victorian Early Years Learning and Development Framework.*